# د خوست ولایت په مرکزي لېسو کې د تاریخ د تدریس پر وړاندې د ستونزو څېړنه

پوهنمل سیف الله غروال او پوهنمل عصمت الله زیار، شیخ زاید پوهنتون، ټولنیزو علومو پوهنځی، تاریخ او جغرافیې څانګه.

برېښنالیک: gharwalsaifullah@gmail.com, asmatullah.zair@gmial.com

**لنډیز**

تاریخ د هرې ټولنې په هویت جوړونه او د ملي ارزښتونو په پالنه او پیاوړتیا کې ډېره مهمه ونډه لري؛ دې ټکي ته په پام سره اړینه ده، چې د دې مضمون تدریس او زده کړې ته ځانګړې پاملرنه وشي او پر وړاندې یې ټول خنډونه له منځه ولاړ شي؛ خو لیدل کېږي، چې د هېواد په تعلیمي ادارو کې د تاریخ په زده کړه او تدریس کې ډېرې ستونزې موجودې دي، چې هم ښوونکي او هم زده کوونکي ورسره مخ دي. بناً د دې څېړنې اصلي موخه دا ده، چې د خوست ولایت په مرکزي لېسو کې د تاریخ د تدریس پر وړاندې شته ستونزې او ننګونې راټولې او تحلیل شي. دا ساحوي څېړنه د خوست ولایت په مرکزي ( دولتي او خصوصي) لېسو کې سرته رسیدلې ده. نمونه یې په هدفي ډول د تاریخ ښوونکي دي. د موخې په اساس توصیفي او د معلوماتو له مخې ګډه څېړنه ده. معلومات یې د(SPSS 23)په مرسته تحلیل شوي دي. د څېړنې موندنې ښیي، چې د تاریخ په تدریس کې ښوونکي د علمي سېر، تمثیل(رول پلې) او پروژې مېتودونو څخه ګټه نه اخلي، د درسي وسایلو په برخه کې له تعلیمي ټکنالوژۍ، مستندو فلمونو او تاریخي اطلسونو څخه د نه شتون له امله استفاده نه کېږي او د درسي چاپېریال په برخه کې ښوونکي له کاري فشار سره مخ دي، مناسب عاطفي او رواني محیط شتون نه لري او ښوونکیو ته د ظرفیت لوړونې برنامې تر دې مهاله په لاره نه دي اچول شوې. سربېره پر دې تر لاسه شول، چې د (۲۶) ښوونکیو له جملې څخه یوازې پنځه تنه یې د تاریخ رشتې مسلکي او (۲۱) تنه یې غیر مسلکي دي. په ټولګیو کې د زده کوونکو شمېر زیات دی او د درسي کتابونو په محتوا کې تسلسل نه دی مراعت شوی.

**کلیدي ټکي:** خوست ولایت، تاریخ، تدریس، د تدریس نوي مېتودونه، درسي وسایل، درسي چاپېریال.

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحیم. الحمد لله رب العلمین. والعاقبة للمتقین والصلاة والسلام علی رسوله الکریم وعلی اله واصحابه اجمعین، و امابعد.**

انسان هغه موجود دی، چې نه یوازې د تېر په اړه فکر، تحلیل او شننه کوي، له هغې څخه ترلاسه کړې تجربه د حال په زمانه کې کاروي او د راتلونکي په وړاندوینې سره خپل راتلونکی انځوروي. همدارنگه د دې توان هم لري، چې د نورو له تاریخ او تجربو څخه درس واخلي او له هغې څخه د حال او راتلونکي په جوړونه کې استفاده وکړي. سربېره پر دې، انسانانو تل هڅه کړې، چې د بېلابېلو تگلارو او وسایلو په کارونې سره خپله پوهه، تجربه او ارزښتونه وروستیو نسلونو ته انتقال کړي او هغوی له خپل تېر تاریخ څخه خبر کړي.

د تاریخ زده کړه په هر هېواد کې د هویت جوړونې او د ملي ارزښتونو په پالنه کې مهمه ونډه لري. د داسې موضوعاتو او مسایلو زده کړه باید په ښه ډول صورت ونیسي، تر څو زده کوونکي له خپل تېر تاریخ سره ژوره اړیکه پیدا کړي.

د اسلام سپیڅلی دین هم موږ ته د تاریخ د زده کړې او ارزښت په اړه ښکاره لارښوونې لري. الله تعالی په قرآنکریم کې فرمایلي دي:« قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِكُمْ سُنَنٌ فَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانْظُرُوا كَيْفَ كانَ عاقِبَةُ الْمُكَذِّبِينَ» (الا عمران: ۱۳۷). ژباړه: ستاسې څخه مخکې ډېرې دورې تېرې شوي دي، په ځمکه کې وگرځئ او راوگرځئ، وگورئ چې هغه وگړي له کوم برخلیک سره مخامخ شول، چې ( د الله تعالی حکمونو او لارښوونو ته ) یې د دروغو نسبتونه وکړل.

د تاریخ د دومره اهمیت سربېره، لیدل کېږي، چې په ټولنه کې د هغې له زده کړې سره د زده کوونکو ترمنځ د علاقې کچه ډېره لږه ده. داسې لیدل کېږي، چې ښوونکي د تاریخ په تدریس کې له بېلابېلو ستونزو سره مخ دي، چې دا په خپله د تاریخ له زده کړې سره د علاقې د کموالي لامل کېږي.

ددې لپاره چې د تاریخ په تدریس کې شته ستونزې په گوته او د حل لیارې ورته پیدا شي، نو یوې هر اړخیزې څېړنې ته اړتیا ده. دا څېړنه د خوست ولایت په مرکزي لېسو کې د تاریخ په تدریس کې د ستونزو د تشخیص لپاره ترسره شوې ده، چې د تدریس اړوند درې عمده برخو یعنې، ۱-درسي مېتودونه، ۲-درسي وسایل او ۳-درسي چاپېریال په ځان کې رانغاړي.

**د څېړنې موخې**

اصلي موخه: د خوست ولایت په مرکزي لېسو کې د تاریخ په تدریس کې د اړونده ستونزو تشخیصول.

### فرعي موخې

۱- د تاریخ په تدریس کې د نویو درسي مېتودونو څخه د ګټې اخیستنې معلومول

۲- د تاریخ په تدریس کې د اړینو درسي وسایلو معلومول

۳- د تاریخ په تدریس کې د مناسب درسي چاپېریال په اړه پوهېدل

### د څېړنې پوښتنې

**اصلي پوښتنه:** آیا د خوست ولایت په مرکزي لېسو کې د تاریخ د تدریس پر وړاندې ستونزې شته؟

### فرعي پوښتنې

۱- آیا د تاریخ په تدریس کې د نویو درسي مېتودونو څخه ګټه اخیستل کېږي؟

۲- آیا د تاریخ په تدریس کې له اړینو درسي وسایلو څخه ګټه اخیستل کېږي؟

۳- آیا د تاریخ د تدریس لپاره مناسب درسي چاپېریال شته؟

### د څېړنې تګلاره

دا ساحوي څېړنه د خوست ولایت په مرکزي (دولتي او خصوصي) بېلا بېلو (۲۰) لېسو کې ترسره شوې ده. په نوموړې څېړنه کې تاریخ ښوونکي په هدفي ډول ټاکل شوي دي، چې شمېر یې (۲٦) تنو ته رسېږي. موجوده څېړنه د موخې له مخې توصیفي او د معلوماتو له مخې ګډه څېړنه بلل کېږي. د دې څېړنې معلومات د پوښتن لیک له مخې راټول شوي او د SPSS 23 په مرسته تحلیل شوي دي.

### د څېړنې مخینه

د افغانستان په ښوونځیو کې د تاریخ د زده کړې او د هغې د تدریس پر وړاندې د ستونزو په اړه کومه ځانګړې څېړنه نه ده ترسره شوې، له دې امله یوازې له هغو څېړنو څخه یادونه کوو، چې په دې برخه کې د نړۍ په مختلفو هېوادونو کې ترسره شوې دي، د بېلګې په توګه: په (۲۰۱٦) کې د ګانا هېواد په (عالي لېسو کې د ښوونکو له نظره د تاریخ په تدریس کې ستونزې) ترعنوان لاندې ترسره شوې څېړنه، دې پایلې ته رسیدلې ده، چې د تاریخ درسي نصاب د پلې کولو لپاره مادي او انساني سرچینې ډېرې کمې دي او په ټولګیو کې د زده‌کوونکو شمېر له معیاري حد څخه ډېر زیات دی. دا څېړنه د دې وړاندیز کوي، چې واحد درسي نصاب باید رامنځ ته شي، ترڅو له هغې ټاکلې مودې سره برابر شي، چې د هغې د ختم لپاره ټاکل شوې ده او د تاریخ د زده کړې د پرمختګ لپاره اړینې انساني او مادي سرچینې برابرې شي(Boadu,2016). یوه بله څېړنه، چې د تانزانیا د کیګوما سیمې په منځنیو ښوونځیو کې د تاریخ د زده کړې په اړه ترسره شوې ده. دا څېړنه د تاریخ د زده کړې او ښوونې اهمیت او د تدریس د مېتودونو په اړه د ښوونکو درک او پوهې او همدا ډول د تاریخ د زده کړې په اړه د زده کوونکو پوهه او د تاریخ په زده کړه کې په ستونزو متمرکزه ده. د دې څېړنې موندنې دا ښیي، چې ښوونکي د منځنیو ښوونځیو زده

کوونکو لپاره د تاریخ زده کړه ډېره مهمه بولي او دا مني، چې د تاریخ په تدریس کې معلم محوره مېتود څخه ګټه اخېستل کېږي. همدا ډول ښوونکو د تاریخ په تدریس کې مختلفې ستونزې په ګوته کړې دي، چې د هغوی له جملې څخه د زده کړه ییزو موادو کموالی او د تاریخ په تدریس کې له انګلیسي ژبې څخه ګټه اخیستنه شامله وه(Namamba, A., & Rao, 2017). برونو ژفره او شیرالي په (۲۰۰۳) کال کې د نویو ښوونیزو مېتودونو په رڼا کې د تاریخ په زده کړه کې د موجودو ستونزو په اړه څېړنه ترسره کړه او د جان ډیوي د ښوونیزې نظریې پر اساس یې یو موډل رامنځ ته کړ(Bruno Jofre & Schiralli,2002). ویجایا ساري او همکارانو یې د تاریخ په زده کړه او تدریس کې د موجودو ستونزو له څېړنې څخه وروسته د تاریخ د زده کړې لپاره د نوي ښوونیز موډل په جوړولو بریالي شول( Wijayasari & et al, 2020). د ایران هېواد په پوهنتونونو کې د تاریخ د زده کړې د ستونزو او خنډونو تر عنوان لاندې څېړنې پایلې دا څرګندوي، چې د ایران په پوهنتونونو کې د تاریخ په زده کړه او تدریس کې د تحول د نه رامنځ ته کېدو اصلي لامل په پخوانۍ او مروجه طریقه د تاریخ تدریس دی، یعنې لاهم د ایران په پوهنتونونو کې تاریخ په نویو درسي مېتودنو سره نه تدریس کېږي( فتحي، ۱۴۰۰). د (په ښوونځیو کې د تاریخ د زده کړې وضعیت ته یوه کتنه) تر عنوان لاندې یوه بله څېړنه چې په ایران کې ترسره شوي، دا څرګندوي، چې د تدریس په زده کړه کې په درې عمده برخو کې ستونزې شتون لري، چې عبارت دي، له د درسي کتابونو محتوا، درسي مېتودونه او د ارزونې مېتودونه(چنګاني، ۱۳۹۹). همدا ډول د ایران په هېواد کې (د ښوونکو د ژوندیو تجربو له مخې د منځنۍ دورې د تاریخ په تدریس کې د ستونزو تحلیل) تر عنوان لاندې ترسره شوې څېړنې موندنې ښیي، چې: د منځینو ښوونځیو د تاریخ مضمونونو نصاب بیا کتنې ته اړتیا لري او د دې دورې په ښوونیزو ستونزو کې د درسي کتابونو محتوا لویه ونډه لري؛ ځکه چې د یادو کتابونو درسي مطالب یوازې پېښې انتقالوي او د پېښو پر تحلیل باندې ډېر لږ تمرکز لري او همدا رنګه د تاریخ په تدریس کې له نویو درسي مېتودونو څخه تر ډېره ګټه نه اخیستل کېږي او معلم محوره مېتود باندې ډېر تمرکز کېږي( بابایي و صالحي، ۲۰۲۴).

**د تدریس تعریف**

د تدریس په اړه بېلابېل تعریفونه شتون لري، چې یو څو بېلګې یې په لاندې ډول وړاندې کوو:

په تاریخي توګه او د عامو وګړو له نظره تدریس د بیان یا ابلاغ (Imparting) له مهارت او پوهې څخه عبارت دی او د خواصو له لوري د تاریخ په اړه یو شمېر علمي تعریفونه شوي دي، د بېلګې په توګه، ګیج (۱۹۶۳) تدریس د اشخاصو ترمنځ د اړیکو یوه بڼه او شکل بولي او وایي، چې دا اړیکه د ځانګړو مېتودونو او طریقو له لارې ترسره کېږي(Gage, 1963, p. 94).

امیدون او هانټر تدریس یو تعاملي پروسه ګڼي، چې لومړنۍ بڼه یې په درسي ټولګي کې د ښوونکي او زده کوونکي ترمنځ خبرو کول دي، چې یادې خبرې د بشپړ تعریف شویو فعالیتونو په تر سره کولو سره صورت نیسي (Amidon & Hunter, 1966).

د ډېری علماوو او پوهانو له انده تدریس د منظم او موخه لرونکي پلان پر اساس د زده کوونکي په کړنو کې د مثبت بدلون رامنځ ته کولو لپاره د ښوونکي او زده کوونکي ترمنځ دوه اړخیزه کړنو او تعامل څخه عبارت دی. په تدریس کې مختلف مفاهیم لکه: تمایلات، چلندونه، باورونه، عادتونه، د کړنو طریقې او په عام ډول ټول هغه بدلونونه، چې غواړو د زده کوونکي په وجود کې یې رامنځ ته کړو شامل دي. د تدریس په تعریف کې څلور مهمې نقطې شتون لري:

الف: د زده کوونکي او ښوونکي ترمنځ د تعامل شتون.

ب: له مخکې ټاکل شوې پوهنیزې موخې، مهارتونه او د پوهې د ترلاسه کولو تګلاره.

ج: امکاناتو او موقعیت ته په کتو د منظم پلان شتون.

د: د زده کړې اسانتیاوو او فرصتونو رامنځ ته کول (غوري، ۲۰۱۵)

په لنډه توګه ویلای شو، تدریس د یو منظم او موخه لرونکي پلان له مخې د زده کوونکي په کړنو کې د مثبت بدلون رامنځ ته کولو په موخه د ښوونکي او زده کوونکي ترمنځ د متقابل عمل دی. ښوونکی باید له محتوا وروسته د تدریس مناسب مېتود وټاکي؛ څکه د یو غوره او مناسب مېتود ټاکنه له زده کوونکو سره مرسته کوي، ترڅو درسي موخو ته ورسیږي (ملکشاهي و شاهرخي، ۱۴۰۲، ص ۸۳).

**د تاریخ د زده کړې اهمیت**

تاریخ په عمومي او کلي مفهوم سره، د تېرو وختونو محتوا په ګوته کوي او په مختلفو ژبو کې ور څخه مختلف تعبیرونه شوي دي. لغت پوهان د تاریخ د کلمې له مفهوم څخه ډېر تعبیرونه لري، د بېلګې په توګه د (فرهنګ عمید) لیکوال داسې لیکي: « د تاریخ کلمه د یو شي د وخت ټاکنې، د وخت پېژندنې، د هغې زمانې ساتنه، چې په هغې کې یوه مهمه پېښه رامنځته شوې وي، د پخوانیو خلکو ژوند او پېښو بیان، معلوم وخت او معلومې زمانې څخه عبارت دی» (حسن، ۱۳۶۲، ص۲۹۳). په لغت نامو او دایرة المعارفونو کې د تاریخ کلمې لپاره دوه ډوله تعریفونه موندل کېږي: لومړی تېر یا څه چې پخوا تېر شوي دي یعنې د تېر مطالعه او یا د هغو پېښو مطالعه چې پخوا تېر شوي دي. د دې تعریف له مخې ویلای شو، تاریخ د هغو پېښو ټولګه ده، چې په تېرې زمانې پورې اړه لري. په دویم ډول تعریف کې تاریخ له هغه کړنې یا هڅې څخه عبارت دی، چې هماغه په تېرې زمانې پورې اړوند پېښو ټولګه راپېژني. باید یادونه وکړو، چې تاریخ په تېر پورې اړوند د ټولو پېښو مطالعه نه کوي؛ بلکې یوازې هغه پېښې څېړي، چې په انسانانو پورې اړه ولري (ګل محمدي، ۱۳۹۸).

د ابن خلدون له انده تاریخ د پېښې او د هغې د رېښې په اړه پوهیدنه او څېړنه او د هغې د اصلي لاملونو له پېژندنې څخه عبارت دی او داسې یوه پوهه ده، چې د پېښو څرنګوالی او د هغوی د پېښیدو اصلي لاملونه څېړي، له همدې امله تاریخ له حکمت او فلسفې څخه سرچینه اخلي او ددې حق لري، چې د فلسفې له برخو څخه وشمېرل شي (ابن خلدون، ۱۳۳۶، ص ۲).

ابن خلدون د تاریخ په اړه ځینې نظریې لري، لکه هغه وایي، چې «د تاریخ محرک جغرافیایي چاپېریال دی» همدا ډول وایي، چې « تاریخ د بېلابېلو ټولنیزو پېښو ټولګه ده او د تاریخ عیني او ذهني لاملونه له

یو او بل سره تر دې کچې نږدې دي، چې له یو او بل څخه جدا کېدای نه شي»(محمود،۱۳۷۷، ص۱٦).
ډاکټر مبارک علي په ډېر ساده ډول تاریخ داسې راپېژني: « تاریخ د بشري خوځښتونو د مطالعاتي مشاهدې نوم دی» او یا دا چې: «د تېر مهال د انسان د کارنامو د ثبتولو نوم تاریخ دی»( مبارک علي، ۱۳۸۵.ص۱۷).

له علمي اړخه تاریخ د یوې علمي څانګې په توګه له دوه ډوله ارزښت څخه برخمن دی. اول د تاریخ ښوونیز او زده کړه ییز ارزښت دوهم د تاریخ معرفتي(علمي) ارزښت. د تاریخ زده کړه او ښوونه په خپل ځان کې بېلا بېل ارزښتونه لري، لکه: د ټولنې د وګړو د پوهې او ذهن په جوړولو، د تاریخي کلتورونو او تمدنونو په پېژندلو، ټولنې د افرادو ته د هویت په ورکولو، د ټولنې وګړو ته د تاریخي- کلتوري میراثونو په لېږدولو او همدا ډول د حال او راتلونکي په اړه د پوهې او معلوماتو په برابرولو کې اسانتیاوې رامنځ ته کوي. له علمي او معرفتي اړخه هم تاریخ خپل ځانګړی ارزښت لري، چې د هغې په وسیله کولای شو، اقتصادي، سیاسي، ټولنیزې، حقوقي، کلتوري او جغرافیایي پدیدې په ژوره توګه تحلیل او وڅېړو. بناً تاریخ د انساني او ټولنیزو پدیدو د څېړلو، توصیف او طبقه بندۍ په خدمت کې دی.(نجاتی حسینی، ۱۳۸۲، ص ۱۵۸).

قرآنکریم هم انسان څوارلس ځلې د تاریخ مطالعې ته رابللی دی(اوه ځلې د امر او اوه ځله یې د پېښو په اړه په پوهېدنه او پوښتنه ټینګار کړی دی) او هر ځل یې انسانان تقریباً په ځمکه کې د ګرځېدلو او د تېرو ملتونو د حالاتو په اړه پوهېدنې ته دعوت کړي دي( پرهون، ۱۳۸۲،ص ۳٦).
د تاریخ د زده کړې اړتیا او ارزښت په درېیو حوزو کې په لاندې ډول ښیو:

**الف- تاریخ او هویت:** که چېرې د هر وګړي پېژندپاڼه د هغې فردي هویت وبولو؛ نو کولای شو، چې تاریخ د ملي هویت هنداره وبولو. د هویت کلمه د یو چا د پېژندلو په مفهوم دی او دا د بشر یوه اړتیا ده، چې په ټولنه کې خپل نوم او پېژندنه ولري. تاریخ هم د هر ملت د ملي هویت په رامنځ ته کولو کې ځانګړې او حساسه ونډه لري. د یو ملت د هویت رېښې د هغه په تاریخ کې شتون لري او ملي هویت د هغې ساقې په څېر دی، چې د یو ملت ټولې کلتوري څانګې پر هغې باندې تکیه وي(زردند، ۱۳۹۴، ص ۲۸). په لنډ ډول ویلای شو، چې تاریخ هویت جوړونکی علم دی.

**ب- تاریخ او ملي یووالی:** انسان د ځمکې پر مخ آزاد پیدا شوی دی او تل یې هڅه کړې، چې خپلواک ژوند وکړي. د خپلې خپلواکۍ لپاره یې مبارزه کړې ده او په دې لاره کې یې له هېڅ ډول سرښندنې څخه ډډه نه ده کړې. د هغو هېوادونو وګړي خپل تاریخ ویاړمن بولي، چې د خپلواکۍ او آزادۍ په لاره کې یې له ځانه مېړانه او شهامت ښودلی دی. د وطن پالنې دا حس د تاریخ له برکته دی، چې له تېرو نسلونو څخه نویو نسلونو ته انتقال شوی دی او بالاخره د هغه ملت د ملي یووالي باعث ګرځېدلی دی، د وطن پالنې او خپلواکۍ احساس په هغوی کې ژوندی پاتې شوی دی او دا د همدې تاریخ برکت دی، چې د یو ملت معنوی او ملي ښکلاوې راتلونکو نسلونو ته انتقالوي( بهار خوګیانی، ۱۳۹۱، ص ۸۹). په دې

مانا، چې د تاریخ په اوږدو کې یوه ټولنه یوه مشترکه ماضي لري، چې په هغې کې بریالیتوبونه او ماتې شاملي دي، چې دا د هغوی ترمنځ د ملي یووالي لامل کېږي. یاد موارد تاریخ په خپل ځان کې ساتي او نور ته یې انتقالوي(چنگایي، ۱۳۹۹).

**ج- تاریخ او عبرت اخیستنه:** د تاریخ پېښو پر مطالعې باندې ټینگار د دې لپاره کېږي، ترڅو د تمدنونو د راپورته کېدو، د قومونو او ملتونو د عروج او زوال لاملونو، د انقلابونو د رامنځ ته کېدو او د تاریخي بدلونونو له زده کړې څخه د عبرت درس واخلو. قرآنکریم هم په ځمکه د گرځېدلو تاکید کوي، چې اصلي موخه یې همدغه د تاریخ مطالعه ده( پایدار، ۱۳۸۰، ص ۹).

تاریخ او د هغې پېښو ته پاملرنه کول، انسان ته د دې موقع برابروي، ترڅو له هغه کړنو څخه عبرت واخلي، چې نورو ترسره کړي دي. دا چې ابن خلدون په خپل کتاب باندې د «کتاب العبر» نوم ایښی دی، معلومېږي، چې هغه تاریخي تجربو ته څومره ارزښت ورکړی دی. که څه هم تاریخي پېښې په جزیاتو کې له یوې او بلې سره توپیر لري؛ خو هغه لاملونه، چې د دې پېښو د رامنځ ته کېدو لامل شوي دي، له یو او بل سره ډېر توپیر نه لري؛ په دې اساس د یو قوم تاریخ د بل قوم لپاره گټور تمامیدلی شي. په حقیقت کې تاریخ تېرې تجربې زموږ اوسنیو تجربو ته پرمختگ ورکوي او د ټولنې د ښیرازۍ او پرمختگ لامل کېږي( زرین کوب، ۱۳۷۵، ص ۷).

**د تاریخ د تدریس مېتودونه**

د تاریخ دتدریس لپاره ځانگړي مېتودونه شتون نه لري؛ بلکې په بېلابېلو شرایطو کې د بېلابېلو موضوعاتو د تدریس لپاره له بېلابېلو مېتودونو گټه اخېستل کېږي. دا هم شونې ده، چې موضوع ته په کتو په یو درسي ساعت کې په پرلپسې توگه څو مېتودونه وکارول شي. هغه څه چې د درسي مېتود په ټاکنه او گټه ا خېستنه کې اهمیت لري، دا ده، چې د ښوونکي او زده کوونکو ترمنځ سمه دوه اړخیزه اړیکه او په زده کوونکو کې انگېزه رامنځ ته کړي او موضوعات د اوږد مهال لپاره د هغوی په حافظه کې پاتې شي. د تاریخ په تدریس کې عمومي مېتودونه عبارت دي له: توضیحي مېتود(لیکچر)، د سوال او ځواب مېتود، د فیلم ننداره، د تمثیل( رول پلې) ترسره کول، د علمي سیر مېتود او د بحث (مناظرې) مېتود (احمدي و احمدي، ۱۳۹۷، ص ۲۷).

**د څېړنې موندنې**

| سلنه | تعداد | د زده کړو کچه |
|---|---|---|
| ۳،۸ | ۱ | بکلوریا |
| ۱۱،۵ | ۳ | نیمه لوړې زده کړې |

| | | |
|---|---|---|
| ليسانس | ۲۲ | ۸۴,٦ |
| ټولټال | ۲٦ | ۱۰۰ |
| (۱) ګڼه جدول | | |

له پورته لومړی ګڼه جدول څخه معلوميږي، چې په دغه څېړنه کې ۲٦ تنو ښوونکيو ګډون کړی دی، چې له يادې جملې څخه يې(۱) بکلوريا، (۳) تنه نيمه لوړې زده کړې او پاتې (۲۲) تنه ښوونکي تر ليسانس کچې زده کړې لري.

| تحصيلي رشته | تعداد | سلنه |
|---|---|---|
| تاريخ | ۵ | ۱۹,۲ |
| دله رشته | ۲۱ | ۸۰,۸ |
| ټولټال | ۲٦ | ۱۰۰ |
| (۲) ګڼه جدول | | |

په دويمه ګڼه جدول کې ليدل کيږي، چې ۲۱ تنه ښوونکي يې د بدلې رشتې لرونکي دي، يوازې ۵ يې مسلکي دي. دې ارزونې ته په کتو سره ويلی شو، چې د خوست ولايت په مرکزي لېسو کې ۸۰,۸ سلنه ښوونکي غير مسلکي دي؛ نو ويلی شو چې د ښوونکو غېر مسلکيتوب د تاريخ د تدريس په برخه کې لويه ستونزه ګڼل کيږي.

| د عمر کټګوري | تعداد | سلنه |
|---|---|---|
| ۲۵ -۳۵ | ۱۸ | ٦۹,۲ |
| ۳٦- ۴۵ | ۵ | ۱۹,۲ |
| ۴٦- ۵۵ | ۳ | ۱۱,۵ |
| ۵٦- ٦۵ | ۰ | ۰ |
| ټولټال | ۲٦ | ۱۰۰ |
| (۳) ګڼه جدول | | |

په درېيمه ګڼه جدول کې ليدل کيږي، چې ۱۸ تنه ښوونکي له ۲۵ – ۳۵ کلونو عمر لرونکي دي، چې سلنه يې ٦۹,۲ کيږي.

همدارنګه ۵ تنه ښوونکي د ۳٦- ۴۵ کلونو عمر لرونکي دي، چې سلنه يې ۱۹,۲ کيږي او پاتې ښوونکي چې ۱۱,۵ سلنه کيږي،

د ۴٦- ۵۵ کلونو عمر لرونکي دي.

| د خدمت موده | تعداد | سلنه |
|---|---|---|
| ۱- ۱۰ | ۱۳ | ۵۰,۰ |
| ۱۱- ۲۰ | ۱۱ | ۴۲,۳ |

| | | |
|---|---|---|
| ۲۱- ۳۰ | ۲ | ۷,۷ |
| ۳۱- ۴۰ | ۰ | ۰ |
| ټولټال | ۲۶ | ۱۰۰ |

(۴) ګڼه جدول

په څلورمه ګڼه جدول کې لیدل کېږي، چې ۱۳ تنه ښوونکي د (۱- ۱۰) کلونو پورې، چې سلنه یې ۵۰ کېږي. ۱۱ تنه ښوونکي د (۱۱- ۲۰) کلونو پورې چې سلنه یې ۴۲,۳ کېږي او پاتې ښوونکو یې له (۲۰) کلونو څخه زیات خدمت کړی دی.

| ګڼه | د درسي مېتودونو اړوند پوښتنې | ټولټال | د ځوابونو تکرار | | | | موډ (Mode) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | ډېر زیات | زیات | نسبتاً | هیڅ | |
| ۱ | آیا تاسو د تاریخ په تدریس کې د سوال او ځواب له مېتود څخه ګټه اخلئ؟ | ۲۶ | ۹ | ۱۴ | ۲ | ۲ | ۲ |
| ۲ | آیا تاسو د تاریخ په تدریس کې یوازې د لکچر مېتود څخه ګټه پورته کوئ؟ | ۲۶ | ٦ | ۷ | ۱۱ | ۲ | ۳ |
| ۳ | آیا تاسو د تاریخ په تدریس کې د رول پلې مېتود څخه ګټه اخلئ؟ | ۲۶ | ۳ | ۳ | ۱۲ | ۸ | ۳ |
| ۴ | آیا تاسو د تاریخ په تدریس کې د کنفرانس مېتود څخه ګټه اخلئ؟ | ۲۶ | ۳ | ٦ | ۱۲ | ۵ | ۳ |
| ۵ | آیا تاسو د تاریخ په تدریس کې د مسئلې حل مېتود څخه ګټه اخلئ؟ | ۲۶ | ۷ | ۱۰ | ٦ | ۳ | ۲ |
| ٦ | آیا تاسو د تاریخ په تدریس کې د پروژې مېتود څخه ګټه اخلئ؟ | ۲۶ | ۴ | ۷ | ۵ | ۱۰ | ۴ |
| ۷ | آیا تاسو د تاریخ په تدریس کې د مباحثې او مناظرې میتود څخه ګټه اخلئ؟ | ۲۶ | ۴ | ۱۱ | ۹ | ۲ | ۲ |
| ۸ | آیا تاسو د تاریخ په تدریس کې د علمي سیر مېتود څخه ګټه اخلئ؟ | ۲۶ | ۲ | ۵ | ۱۱ | ۸ | ۳ |
| ۹ | آیا تاسو د تاریخ په تدریس کې د پېښو ترمنځ مقایسوي مېتود څخه ګټه اخلئ؟ | ۲۶ | ۵ | ۱۰ | ۸ | ۳ | ۲ |
| ۱۰ | آیا تاسو د تاریخ په تدریس کې د داستان ویلو مېتود څخه ګټه اخلئ؟ | ۲۶ | ۷ | ۸ | ۵ | ٦ | ۲ |
| ۱۱ | آیا تاسو د تاریخ په تدریس کې د ګروپي کار مېتود څخه ګټه اخلئ؟ | ۲۶ | ۱۰ | ۱۳ | ۱ | ۳ | ۲ |

(۵) ګڼه جدول

په پنځمه ګڼه جدول کې لیدل کېږي، چې د مېتود اړوند بېلا بېلو ۱۱ پوښتنې د خوست ولایت مرکز اړوند خصوصي او دولتي لېسو کې (۲٦) ښوونکیو څخه شوې دي، د لومړی پوښتنې لپاره (۹) تنو ښوونکیو ډېرزیات، (۱۴) تنو ښوونکیو زیات، (۲) تنو ښوونکیو نسبتاً او پاتې یو تن یې هېڅ ځواب په نښه کړی دی، چې Mode یې له (۲) سره برابر دی. دویمه پوښتنه د لکچر مېتود اړوند ده، چې د یادو ښوونکیو له جملې څخه(٦) تنو ښوونکیو ډېر زیات، (۷) تنو ښوونکیو زیات، (۱۱) تنو نسبتاً او پاتې (۲) تنو یې د هېڅ ځواب په نښه کړی دی، چې موډ یې له (۳) سره برابر دی. دریيمه پوښتنه د رول پلې ( تمثیل) مېتود په اړه ده، دې پوښتنې ته (۳) تنو ښوونکو د ډېر زیات، (۳) تنو زیات، (۳) تنو زیات، (۱۲) تنو نسبتاً او (۸) تنو هېڅ ځواب ویلی دی، چې موډ یې له (۳) سره سمون خوري. څلورمه شمېره پوښتنې ته (۳) تنو ډېر زیات، (٦) تنو زیات، (۱۲) تنو نسبتاً او (۵) تنو هېڅ ځواب ویلي دی، چې موډ یې له (۳) سره برابر دی. پنځمه پوښتنه د مسئلې حل مېتود په اړه ده، چې د (۷) تنو ښوونکیو لخوا ورته ډېر زیات، (۱۰) ښوونکیو لخوا د زیات، ( ٦) تنو نسبتاً او پاتې (۳) تنو ښوونکیو ورته د هېڅ ځواب په نښه کړی دی، چې Mode یې (۲) کېږي. شپږمه ګڼه پوښتنه د پروژې مېتود په اړه ده. ذکر شوې پوښتنې ته (۴) تنو ښوونکیو ډېر زیات، (۷) تنو زیات، (۵) کسانو نسبتاً او پاتې (۱۰) ښوونکیو لخوا د هېڅ ځواب ورکړل شوی، چې Mode یې له (۴) سره برابر دی. اوومه پوښتنه د مباحثې مېتود اړوند ده. نوموړې پوښتنې ته(۴) تنو ښوونکیو ډېرزیات، (۱۱) تنو زیات، (۹) تنو نسبتاً او پاتې (۲) تنو ښوونکیو هېڅ ځواب ورکړی دی، چې Mode یې له (۲) سره برابر دی. پورته جدول کې د اتمه پوښتنه د علمي سېر مېتود په اړه ده، چې نوموړې پوښتنې ته (۲) تنو ښوونکیو ډېر زیات، (۵) تنو ښوونکیو زیات، (۱۱) تنو د نسبتاً ځواب ورکړی دی او (۸) تنو ښوونکیو ورته هېڅ ځواب په نښه کړی دی، چې Mode یې له (۳) سره برابر دی. نهمه پوښتنه د پېښو تر منځ د مقایسوي مېتود په اړه ده، چې د خوست ولایت مرکزي لېسو ښوونکیو لخوا ځواب شوېده. یادې پوښتنې ته (۵) تنو ډېرزیات، (۱۰) تنو ښوونکیو زیات، (۸) کسانو نسبتاً او پاتې (۳) تنو ښوونکیو ورته د هېڅ ځواب ورکړی دی، چې Mode یې له (۲) سره برابر دی. لسمه پوښتنه د داستان ویلو مېتود په اړه ده، چې د ځواب ورکوونکیو لخوا ورته (۷) تنو ښوونکیو ډېر زیات، (۸) تنو د زیات، (۵) کسانو نسبتاً او پاتې (٦) تنو ښوونکیو هېڅ ځواب ورکړی دی، چې Mode یې له (۲) سره مساوي دی. یوولسمه پوښتنه د ګروپي کار مېتود په اړه ده، چې (۱۰) تنو ښوونکیو ډېر زیات، د (۱۳) تنو ښوونکیو زیات، (۱) تن ښوونکي نسبتاً او پاتې (۲) تنو ورته د هېڅ ځواب ورکړی دی، چې Mode یې له (۲) سره برابر دی.

| ګڼه | د درسي وسایلو اړوند پوښتنې | ګډونوال | د ځوابونو تکرار | | | | موډ(Mode) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | ډېر زیات | زیات | نسبتاً | هېڅ | |
| ۱ | آیا تاسو د تاریخ په تدریس کې د له تختې کار اخلئ؟ | ۲٦ | ۲۲ | ۲ | ۲ | ۰ | ۱ |
| ۲ | آیا تاسو د تاریخ په تدریس کې له عصري درسي (کمپیوټر، پروجکټور او سکرین) وسایلو څخه ګټه اخلئ؟ | ۲٦ | ۱ | ۷ | ۴ | ۱۴ | ۴ |
| ۳ | آیا تاسو د تاریخ په تدریس کې د تاریخي دورو او پېښو په اړه له چارتونو او جدولونو ګټه اخلئ؟ | ۲٦ | ۴ | ٦ | ۹ | ۷ | ۳ |
| ۴ | آیا تاسو د تاریخ په تدریس کې له مستندو ویډیویي فلمونو ګټه اخلئ؟ | ۲٦ | ۴ | ۴ | ٦ | ۱۲ | ۴ |
| ۵ | آیا تاسو د تاریخ په تدریس کې له لارښود کتاب څخه ګټه اخلئ؟ | ۲٦ | ٦ | ۸ | ۸ | ۳ | ۲ |
| ٦ | آیا تاسو په ښوونځي کې معیاري کتابتون شتون لري؟ | ۲٦ | ۱۰ | ٦ | ۷ | ۳ | ۱ |
| ۷ | آیا زده کوونکي د مطالعې لپاره له کتابتون څخه ګټه اخلئ؟ | ۲٦ | ۸ | ۱۱ | ۵ | ۲ | ۲ |
| ۸ | آیا تاسو د تاریخ په تدریس له تاریخي اطلسونو څخه ګټه اخلئ؟ | ۲٦ | ۲ | ۹ | ٦ | ۹ | ۲ |
| ۹ | آیا تاسو د تاریخ په تدریس کې له نقشو څخه ګټه اخلئ؟ | ۲٦ | ۱۰ | ۹ | ۴ | ۳ | ۱ |
| ۱۰ | آیا ټولو زده کوونکو ته درسي کتابونه رسیدلي دي؟ | ۲٦ | ۱۴ | ۳ | ۷ | ۲ | ۱ |

(٦) ګڼه جدول

شپږمه ګڼه جدول کې په عمومي ډول د درسي وسایلو په اړه پوښتنې شوې دي، چې له دې جملې څخه لومړی پوښتنه د تختې څخه ګټې اخیستنې په اړه ده. یادې پوښتنې ته (۲۲) تنو ښوونکیو د ډېر زیات، (۲) تنو زیات، (۲) تنو ښوونکیو نسبتاً ځواب ورکړی دی، چې موډ یې له (۱) سره برابر دی. دویمه ګڼه پوښتنه د عصري درسي وسایلو لکه کمپیوټر، پروجکټور او نورو ... په اړه شوې ده، چې (۱) تن ښوونکي ډېر زیات، (۷) تنو زیات، (۴) کسانو نسبتاً او پاتې (۱۴) تنو ښوونکیو د هېڅ ځواب په نښه کړی دی، چې Mode یې له (۴) سره برابر دی. موجوده جدول کې درېیمه پوښتنه د تاریخي دورو، چارټونو او جدولونو په اړه ده. یادې پوښتنې ته (۴) تنو ښوونکیو ډېر زیات، (٦) کسانو زیات، (۹) تنو د نسبتاً ځواب، (۷) تنو ښوونکیو د هېڅ ځواب ورکړی دی. د یادې پوښتنې Mode د (۳) سره مساوي دی. څلورمه پوښتنه د مستندو فلمونو په اړه ده. نوموړې پوښتنې ته (۴) تنو ډېر زیات، (۴) کسانو زیات، (٦) تنو نسبتاً او (۱۲) تنو ښوونکیو هېڅ ځواب په نښه کړی دی، چې Mode یې له (۴) سره برابر دی. پنځمه

پوښتنه د لارښود کتاب اړوند ده، چې نوموړې پوښتنې ته (٦) تنو ډېر زيات، (٨کسانو زيات، (٨) تنو نسبتاً او (٣) تنو ښوونکيو د هېڅ ځواب په نښه کړی دی، چې Mode يې له (٢) سره برابر دی. شپږمه پوښتنه د معيار کتابتون په اړه ده، چې يدې پوښتنې ته (١٠) تنو ډېر زيات، (٦) کسانو زيات، (٧) ښوونکيو نسبتاً او پاتې (٣) تنو ښوونکيو ورته د هېڅ ځواب په نښه کړی دی، چې Mode يې له (١) سره مساوي دی. په همدې ګڼه جدول کې اوومه شمېره پوښتنه د کتابتون څخه د استفادې اړوند ده، چې د (٨) تنو ښوونکيو له ډېر زيات، (١١) تنو زيات، (٥) ښوونکيو نسبتاً او پاتې (٢) تنه ښوونکيو د هېڅ ځواب په نښه کړی دی، چې Mode يې (٢) کېږي. اتمه شمېره پوښتنه د تاريخي اطلسونو څخه د ګټې اخيستنې اړوند ده، چې (٢) تنو ډېر زيات، (٩) کسانو زيات، (٦) تنو نسبتاً او پاتې (٩) ښونکيو ورته هېڅ ځواب په نښه کړی دی، چې Mode يې (٢) دی. نهمه ګڼه پوښتنه د نقشو اړونده ده، چې يادې پوښتنې ته (١٠) تنو ښوونيکو ډېر زيات، (٩) تنو زيات، (۴) ښوونکيو نسبتاً او پاتې (٣) تنو ښوونکيو ورته د هېڅ ځواب په نښه کړی دی، چې Mode يې له (١) سره برابر دی. همدارنګه په (٦) ګڼه جدول کې لسمه پوښتنه د درسي کتابونو د رسيدو اړونده، چې (١۴) تنو ښوونکيو يادې پوښتنې ته د ډېر زيات، (٣) تنو زيات، (٧) کسانو نسبتاً او پاتې (٢) تنو ښوونکيو هېڅ ځواب په نښه کړی دی، چې Mode يې (١) کېږي.

| ګڼه | د درسي چاپېريال اړوند پوښتنې | ټول ګډون | د ځوابونو تکرار: هو | نه |
|---|---|---|---|---|
| ١ | آيا تاسو د تدريس لپاره مناسب تعميرلرئ؟ | ٢٦ | ٢٠ | ٦ |
| ٢ | آيا د طبيعي پېښنو له امله درسي بهير کله د خند او ځنډ سره مخ شوی دی؟ | ٢٦ | ۵ | ٢١ |
| ٣ | آيا تاسو د تدريس پر مهال د کار له فشار سره مخ يی؟ | ٢٦ | ٢١ | ۵ |
| ۴ | آيا تاسو ته د ظرفيت لوړونې ورکشاپونه دير شوي دي؟ | ٢٦ | ٦ | ٢٠ |
| ۵ | آيا تاو د تدريس لپاره مناسب رواني او عاطفي چاپېريال لری؟ | ٢٦ | ١٦ | ١٠ |
| ٦ | آيا تاسو د تدريس لپاره مناسب ټولنيز چاپيريال لری؟ | ٢٦ | ١٩ | ٧ |

(٧) ګڼه جدول

اوومه ګڼه جدول کې بېلا بېلې شپږ پوښتنې موجودې دي، چې د درسي چاپېريال اړوند دی. لومړی پوښتنه د مناسب تعمير په اړه ده. يادې پوښتنې ته د (٢٠) تنو ښوونکيو لخوا (هو) ځواب او (٦) تنو استادانو د (نه) ځواب ورکړی دی. دويمه پوښتنه د د طبيعي پېښو په اړه ده، چې د (۵) تنو لخوا ورته (هو) او (٢١) تنو ښوونکيو ورته د (نه) ځواب ورکړی دی. دريېمه پوښتنه د کار پر مهال د فشار اړوند ده، چې (٢١) تنو ښوونکيو ورته د (هو) او (۵) تنو ښوونکيو ورته د (نه) ځواب ورکړی دی. څلورمه پوښتنه د ظرفيت لوړونې ورکشاپونو په اړه ده. نوموړې پوښتنې ته (٦) تنو ښوونکيو (هو) او پاتې (٢٠)

تنو ښوونکیو ورته د (نه) ځواب ورکړی دی. پنځمه پوښتنه د رواني عاطفې په اړه ده. یادې پوښتنې ته (۱۶) تنو ښوونکیو (هو) او (۱۰) ښوونکیو ورته د (نه) ځواب ورکړی دی. د پورته جدول وروستی پوښتنه د ټولنیز چاپېریال اړوند ده. نوموړې پوښتنې ته(۱۹) تنو ښوونکیو د (هو) ځواب او پاتې (۷) تنو ښوونکیو ورته د (نه) ځواب رکړی دی. د ذکر شویو پوښتنو تر څنګ یوه خلاصه پوښتنه په پوښتنلیک کې شتون لري، چې د نوموړې پوښتنې په مرسته لاندې ځوابونه تر لاسه شوي دي.

- د تاریخ درسي کتابونو محتوا زیاته او درسي ساعتونه کم ورته په نظر نیول شوي دي.
- د محتوا په املاء او انشاء کې ستونزې موجودې دي.
- محتوا کې د موضوعاتو ترمنځ تسلسل شتون نه لري.
- دولتي ښوونځیو کې زده کوونکي د کتابونو له کمښت سره مخ دي.
- د ځینو تاریخي پېښو نېټې دقیقې نه دي.
- د زده کوونکو د زده کړې انګېزه کمزورې ده.

**مناقشه**

په (۲۰۱٦) مېلادي کال په ګانا هېواد کې د تاریخ په تدریس کې د ستونزو تر عنوان لاندې څېړنې پایلې ښيي، چې د درسي نصاب لپاره انساني سرچینې ( ښوونکي ) کم دي او په ټولګیو کې د زده کوونکیو شمېره له معیاري حد څخه زیاته ده، زموږ څېړنه هم ورته پایلې په ګوته کوي. د تانزانیا د کیګوما سیمې په منځنیو ښوونځیو کې په ۲۰۱۷ مېلادي کال په منځنیو ښوونځیو کې د تاریخ د زده کړې په اړه ترسره شوې څېړنې پایلې ښيي، چې د تاریخ په تدریس کې درسي او زده کړه ییز توکي کم دي، دغه څېړنه د درسي موادو د کمښت په برخه کې ورته پایلې لري. په ۱۳۹۹ کال کې د د ایران هېواد په ښوونځیو کې د تاریخ د زده کړې د وضعیت په اړه ترسره شوې څېړنې پایلې ښيي، چې د کتابونو په درسي محتوا، درسي مېتودونو او د ارزونې مېتودونو کې ستونزې شتون لري، موجوده څېړنه هم د درسي کتابونو په محتوا کې او د تدریس په مېتودونو کې ستونزې مني او زیاتوي چې درسي محتوا زیاته او درسي ساعتونه کم دي. بله څېړنه چې په ۱۴۰۰ کال کې د ایران په پوهنتونونو کې ترسره شوې؛ دې پایلې ته رسیدلې ده، چې د تاریخ په تدریس کې له زړو مېتودونو څخه ګټه اخیستل کېږي، موجوده څېړنه هم ورته پایلې په ګوته کوي.

**پایله**

ستاسو په لاسونو کې موجوده څېړنه د خوست ولایت په مرکزي (دولتي او خصوصي) (۲۰) لېسو کې سرته رسیلې ده، چې د تر لاسه شویو معلوماتو له تحلیل څخه وروسته مو لاندې پایلې تر لاسه کړې. پورته لېسو کې (۲٦) تنه د تاریخ ښوونکي شتون لري، چې (۲۲) تنه یې لیسانس دي. باید واضح کړو، چې له یادو (۲٦) تنو څخه یې (۵) تنه د تاریخ مسلکي او پاتې (۲۱) تنه یې غیرمسلکي ښوونکي دي. همدا ډول د (۵۰) سلنه ښوونکیو د خدمت موده له (۱- ۱۰) کلونو پورې ده. له دې څخه معلومیږي،

چې ډېرى ښوونکي د تدريس لږه تجربه لري. بايد يادونه وشي، چې په يادو لېسو کې له اووم ټولګي څخه تر دوولسم ټولګي پورې (۱۴۹۳۲) تنه زده کوونکي په زده کړو بوخت دي. د دې څېړنې په نتيجه کې په نوموړيو ښوونځيو کې د تاريخ په تدريس کې د علمي سېر، تمثيل (رول پلې) او پروژې مېتودونو څخه ګټه نه اخيستل کېږي. همدارنګه په يادو ښوونځيو کې د درسي وسايلو په برخه کې له تعليمي ټکنالوژۍ (کمپيوټر، پروجکټور او سکرين)، مستندو فلمونو او تاريخي اطلسونو څخه د نه شتون له امله استفاده نه کېږي. موجوده څېړنه کې د درسي چاپېريال په اړه لکه: کاري فشار، مناسب عاطفي او رواني محيط او ښوونکيو ته د ظرفيت لوړونې برنامې په نظر کې نه نيول د ستونزې په توګه په ګوته شوې دي.

**وړانديزونه**

پورته څېړنه، چې د خوست ولايت په مرکزي ليسو کې د تاريخ د تدريس په وړاندې د ستونزو په اړه ترسره شوې ده، چې د هغې په پايله کې يو شمير ستونزې په ګوته شوې، چې د څېړنې په پايليزه کې ورڅخه يادونه شوې ده. ددې لپاره چې يادې ستونزې حل او يا تر يوه بريده حل شي؛ نو د پوهنې وزارت او په ځانګړې ډول د خوست ولايت پوهنې رياست ته لاندې وړانديزونه لرو.

۱- دا چې اوس مهال د هېواد له بېلابېلو پوهنتونونو څخه د تاريخ مسلکي ليسانس کادرونه فارغ شوي دي، چې ډېر شمېر يې دندې نه لري او يا په نورو کارونو مصروف دي، بناً غوښتنه کېږي، چې په ټولو دولتي او خصوصي ليسو کې دې د تاريخ مسلکي ښوونکي په دندو وګمارل شي، تر څو له يوې خوا په ښوونځيو کې د تاريخ مسلکي ښوونکي ولرو او له بلې خوا به کار اهل کار ته سپارل شوى وي. په همدې ډول له خصوصي ليسو او ښوونځيو له مالکانو هم غوښتنه کېږي، چې د معياري تدريس په موخه دې، د تاريخ مسلکي ښوونکي جذب کړي.

۲- ښوونکو ته دې په خپل مسلک کې د ظرفيت لوړونې (ورکشاپونه، سيمنارونه.....) پروګرامونه په لاره واچول شي.

۳- په ډېرى ليسو کې د زده کوونکو په تناسب د ښوونکو شمېر لږ دى، غوښتنه کېږي، چې د ښوونکو شمېر زيات شي.

۴- د لېسو لپاره دې معياري تعميرونه جوړ شي، چې معياري درسي خونې، معياري صحن، معياري او ارامه چاپيريال ولري. همدا ډول يو شمېر خصوصي ليسې په غيرمعياري ودانيو کې خپلې چارې پرمخ وړي غوښتنه کېږي، چې د خصوصي ليسو مالکان دې د معيارونو مطابق خپلې ودانۍ جوړې کړي.

۵- د تاريخ د عملي زده کړې لپاره دې د تاريخ لابراتوارونه جوړ شي، چې بېلابېلې تاريخي او سياسي نقشې ، تاريخي انځورونه و، تاريخي اطلسونه، د تاريخي اسنادو ارشيف، تاريخي کتابونه او مستند فلمونه ولري. ددې ترڅنګ د تاريخ لابراتوار دې په نوې ټيکنالوژۍ سمبال شي، لکه: کمپيوټري اسانتياوې او جغرافيايي معلوماتو سيستمونه (GIS)، چې په يادو اسانتياوو سره به نه يوازې ښوونکي؛ بلکې زده کوونکي هم نوښتونه رامنځ ته کړي.

۶- د تاریخ په درسي نصاب باندې دې بیا کتنه وشي، ځکه یاد درسي نصاب د یو شمېر محتوایي ستونزو برسېره په ځینو ټولګیو کې د پېښو تاریخي تسلسل نه لري.
۷- دا چې د تاریخ په کتابونو کې د موضوعاتو حجم زیات دی او اوسني درسي ساعتونه نشي کولای، چې د کال تر پایه ټول موضوعات په پوره ډول پای ته ورسوي، بناً غوښتنه کېږي، چې د تاریخ مضمون د درسي ساعتونو شمېر دې زیات شي.

**مأخذونه**


القرآنکریم

ابن خلدون، عبدالرحمان. (۱۳۳۶). مقدمه، ابن خلدون. ترجمه: محمد پروین گنابادي، تهران: بنگاه ترجمه و نشر کتاب. https://s6.picofile.com/d/8377295142/c37af3ce-e435-4aa5-8e86-32393f3a8bar

حمدی, احمدی & ,غلامعلی. (۱۳۹۷). آموزش؛ آموزش تاریخ ضرورت ها و شیوه های نوین. *رشد آموزش تاریخ*, 69(20), 26-31.

بابائی, مظهر, صالحی, پرستو. (۲۰۲۴). تحلیل تجارب زیسته‌ی معلّمان تاریخ از چالش‌های برنامه درسی و آموزش دروس تاریخ متوسطه دوم. *مدیریت و برنامه ریزی در نظام های آموزشی*, ۱۷ (۱).

بهارخوگیانی، سید محمد کریم.(۱۳۹۱). مبادي تاریخ. هند- ممبیي: مطبعه ریپرو اندیا( Repro India Ltd).

پرهون، حسن. (۱۳۸۲). ضرورت بازنگري و اصلاح روش های آموزش تاریخ. مجله رشد آموزش تاریخ، شماره ۱۳.

چنگایی، مهتاب. (۱۳۹۹). نگاهی به وضعیت آموزش تاریخ در مدارس. پژوهش در آموزش تاریخ، ۱(۳)، ۱۰۰-۸۳.

حسن، عمید. (۱۳٦۲). فرهنگ فارسي عمید. تهران: موسسه انتشارات امیر کبیر.

زردند، علي.(۱۳۹۴). روش های تقویت هویت دیني و ملي به کمک درس تاریخ . مجله رشد آموزش تاریخ، شماره دوم، دوره هفدهم. SID. https://sid.ir/paper/374689/fa

زرین کوب، حسین. (۱۳۷۵). تاریخ در ترازو. تهران: انتشارات امیر کبیر.

غوري، عبدالغیاث.(۱۷ /اکتوبر/ ۲۰۱۵). روش های فعال تدریس. Retrieved 9 30, 2024, from . جام غور: https://jameghor.com/article/

فتحی، کوروش. (۱۴۰۰). موانع و چالش های آموزش تاریخ در دانشگاه های ایران. فصلنامه علمی-تخصصی پژوهش در آموزش تاریخ، ۲(۷)، ۹۲-۱۰۷. SID. https://sid.ir/paper/950174/fa

گل محمدی,احمد. (۲۰۱۰). باز تعریف تاریخ سیاسی پیشنهاد برای سامان‌دهی تاریخ سیاسی‌پژوهی. *تاریخ نگری و تاریخ نگاری*, ۲۰ (۵),۱۰۷-۱۲۸.
https://hph.alzahra.ac.ir/article_836_de8ec372d51c4119f7b8df2bee28a6e9.pdf

مبارک علی.(۱۳۸۵). تاریخ او د تاریخ فلسفه.(محمدنوید، ژباړونکی)، لاهور: اکرم پریس

محمود، شاه محمود. (۱۳۷۷). تاريخ نويسي در افغانستان. کابل: ناشر مؤلف.

ملکشاهي، هاشم و سیدعلاءالدین شاهرخي. (۱۴۰۲). در آمدی بر روش های نوین تدریس تاریخ در مدارس کشورهای مختلف. پژوهش در آموزش تاریخ، دوره چهارم، شماره دوم، تابستان ۱۴۰۲، ۸۰- ۹۹.

نجاتی حسینی، سید محمود. (۱۳۸۲). واکاوی هویت تاریخی، تاریخ نگاری و جامعه شناسی تاریخی ایران : مالحظات نظری و روش شناختی، فصلنامه مطالعات ملی؛ ۹۵ ،سال چهارم، شماره ۹.
https://www.rjnsq.ir/article_103514.htm

Amidon, E. J., & Hunter, E. (1966). Improving teaching: The analysis of classroom verbal interaction. New York: Holt Reinhart and Winston.

Boadu, G. (2016). Teachers’ perceptions of the problems faced in the teaching of History in senior high schools. *Journal of Arts and Humanities*, *5*(7), 38-48.

Bruno Jofre, R., & Schiralli, M. (2002). Teaching history: A discussion of contemporary challenges. Encounters on Education, 3, 117-127.

Gage, N.L. (Ed.). (1963). *Handbook of research on teaching*. Rand McNally: Chicago

Namamba, A., & Rao, C. (2017). TEACHING AND LEARNING OF HISTORY IN SECONDARY SCHOOLS: HISTORY TEACHERS’PERCEPTIONS AND EXPERIENCES IN KIGOMA REGION, TANZANIA. *European Journal of Education Studies*.

Wijayasari, E., Wati, K., & Winarsih, M. (2020). Challenge of History Teachers in Teaching and Learning Higher Order Thinking Skills (Hots). Historical Studies Journal, 30(1), 36-45,

# Research on the problems faced in teaching history in central high schools of Khost province

Senior Teaching Assistant Saifullah Gharwal and Senior Teaching Assistant Asmatullah Ziar, Sheikh Zayed University, Faculty of Social Science History and Geography Department.
**Email**: gharwalsaifullah@gmail.com, asmatullah.zair@gmial.com

## Abstract

History plays a vital role in establishing the identity and in the fostering and strengthening of national values; considering this point, special attention is essential to be payed to the teaching and learning of this subject and eliminate all obstacles to it; however, it is observed that there are many problems in the teaching and learning history in the country's educational institutions, where both teachers and students suffered. Therefore, the main purpose of this study was to collect and analyze the problems and challenges facing the teaching of history in the central high schools of Khost province. This was a field study, conducted in the central (Public and Private) high schools of Khost province. Purposive sample was used. A mixed approach (Qualitative and Quantitative) was taken into consideration. The data was analyzed through SPSS 23. The findings of the study indicate that teachers do not have accept to academic tours, do not use role-plays and project methods in teaching history. In teaching facilities, educational technology, documentaries, and historical atlas or maps are not used due to its availabilities. In terms of teaching environment, teachers face work pressure, there is no appropriate emotional and psychological setting and capacity-building programs for teachers have not been implemented so far. In addition, it was found that out of (26) teachers, only five were professionals in the field of history and (21) were non-professionals. The number of students in the classes was high and the content of the textbooks was not consistent and up to date.

**Key Words:** Khost Province, History, teaching, new teaching methods, teaching materials, teaching environment.